مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد


پښتو ژباړه: رحمت آريا                                                                 ۲۰۲۱/۱۱/۲۴

# د افغانستان سياسی او تأريخی ژورنال

## دويم ټوک

### نهه پنځوسمه برخه

## فراه

## او

## د افغانستان سويلي برخې

## تصحيحات

## ډاکتر لوډويک . ډبيلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973
**لودويک آدمک**

**قلعۀ کنګ**: *۶ – ۳۱ ، ۵۲ – ۶۱: دا د نيمروز په ولايت کې د يوۀ کلي او همدا شان د يوې ولسوالي نوم دی چې د زرنج د شمال په ۸ مايلی کې واقع ده. په دې ولسوالی کې ۳۸۴ کلي دي چې د وګړو ټول شمېر ئې ۵۷۳۰۰ وګړي دي. ددې ولسوالی کرنيزه ځمکه نږدې ۳۵۴۴۰۰ جريبه ده او د مالګر ځمکه ئې ۴۹۶۰۰ جريبه ده. دا ولسوالي په ۱۹۱۲ ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:*

په افغان سيستان کې د ابراهيم آباد د کلا د سويل په ۳ مايلی کې له ختو جوړه کلا يا حصار ډوله کلا ده چې د خپلو اړخونو د لويوالي له منظره ۵۰۰ يارډه لويوالی لري. ديوالونه ئې ۲۰ فيټه لوړ دي چې ګرد چاپيره ئې يو زوړ خندق راتاو دی. په ۱۸۸۴ز کال کې دا کلا تر ترميم لاندې وه او د ۵۰۰ افغان سرتيرو ګارنيزيون په کې اوسېدۀ. دلته پخوا د ابراهيم خان يو زوی غلام حيدر اوسېدۀ. ("کنګ" د ځمکي داسې يوې ګردۍ غونډۍ يا پُښتې ته وايي چې کله د سيند سيلاب ګرد چاپيره سيمه يوسي او دا وچه پاتې سي.) «پيکاک»

| کانالونه | د کلي نوم | د کلي د ملک يا کدخدا نوم | قومونه چې په کروندګرو کې استازيتوب لري | په کلي کې د قلبو يا پګوګانو شمېر | د ۱۹۰۳ – ۱۹۰۴ز کال پسرلنی حاصل | ۱۹۰۴ز کال د مني حاصلات | په کلي کې له ټولو طبقانو څخه د کورنيو شمېر |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| هغه کانال چې کلی خړوبوي | | | | | کرل سوی تخم په | په کلي کې د کرل سوي تخم مجموعي شمېر<br>ښودل سوی په سنګ من | |




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | سنګ خروار | | | | | | | |
| | | | | تحویل یا | د غني جمع | کلګیري | غنم | وربشي | ملوچ (کالود) | مې «ماش» | ږدن او جوار | کونځلې یا کونجد | خټکي «پالیز» | |
| د کنګ تبابه (د کلیو ټولګه) | | | | | | | | | | | | | | |
| د ځرخ کانال | حسین خان | — | — | ۳ | ۳ | ۴ | '۳ ۱۴ | '۰ ۶ | ۱۴۵ | ۴ | ۱۱ | — | '۰ ۶ | ۷۲ |
| پورتنی | شهباز خان | شهباز خان غلزی | غلزي افغانان، فارسي | ۲ | ۴ | ۴ | '۷ ۱۸ | '۰ ۶ | ۱۱۵ | '۵ ۳ | '۵ ۱۳ | — | '۰ ۵ | ۴۶ |
| پورتنی | غلام محمد خان | غلام محمد خان بابي | بابي افغانان، فارسي | ۳ | ۴ | ۴ | '۰ ۱۶ | '۰ ۷ | ۱۹۰ | ۹ | ۲۲ | — | '۵ ۶ | ۸۱ |
| پورتنی | بلوخ خان | پورتنی | پورتني | ۲ | ۶ | ۳ | '۸ ۱۷ | '۰ ۸ | ۱۷۰ | ۸ | '۵ ۱۶ | — | ۵' ۵ | ۵۱ |
| پورتنی | | — | — | ۲ | ۴ | ۲ | '۵ ۱۳ | '۰ ۶ | – | — | — | — | — | — |
| پورتنی | | — | — | ۲ | ۳ | ۲ | '۳ ۱۱ | '۰ ۵ | ۱۶۵ | ۸ | ۱۶ | — | '۰ ۶ | ۷۹ |
| پورتنی | | — | — | ۱ | ۳ | — | '۶ ۸ | '۰ ۴ | ۱۲۵ | ۶ | ۱۱ | — | '۵ ۶ | ۴۷ |
| پورتنی | | — | — | ۱ | ۳ | — | '۶ ۸ | '۰ ۴ | ۱۹۵ | ۳ | '۵ ۱۳ | — | '۵ ۴ | ۴۰ |
| پورتنی | | — | — | ۳ | ۴ | — | '۰ ۱۶ | '۰ ۷ | ۲۷۰ | '۵ ۵ | ۱۳ | — | '۵ ۶ | ۶۴ |

| کانالونه | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هغه کانال چې کلی خړوبو ي | د کلي نوم | د کلي د ملک یا کد خدا نوم | قومونه چې په کروندګرو کې استازیتوب لري | په کلي کې د قلبو یا پګوګانو شمــېــر | | | د ۱۹۰۳ – ۱۹۰۴از کال پسرلنی حاصل | | ۱۹۰۴زکال د مني حاصلات | | | | | په کلي کې له ټولو طبقانو څخه د کورنیو شمــېــر |
| | | | | | | | کرل سوی تخم په سنګ خروار | | په کلي کې د کرل سوي تخم مجموعي شمــېــر<br>بنودل سوی په سنګ من | | | | | |
| | | | | تحویل یا | د غني جمع | کلګیري | غنم | وربشي | ملوچ (کالود) | مې «ماش» | ږدن او جوار | کونځلې یا کونجد | خټکي «پالیز» | |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ |
| د کنګ تبابه (د کلیو ټولګه) | | | | | | | | | | | | | | |
| د ځرخ | غلام | — | — | ۱ | ۲ | ۱ | ۶ '۷ | '۰ | – | '۵ | — | — | '۵ | ۴۸ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کانال | خان | | | | | | | ٣ | | ١۴ | | | ۶ | |
| پورتنی | نور<br>محمد | — | — | ٣ | ٢ | ٢ | '٣<br>١١ | '٠<br>۵ | ١٣۵ | '۵<br>٣۵ | ١۶ | — | '٠<br>٧ | ٨٠ |
| پورتنی | دادي | – | – | ١ | ۶ | ۵ | '٢<br>١۶ | '٠<br>٧ | ٢٢٠ | ٨ | — | — | '٠<br>۴ | ۶۴ |
| پورتنی | سید<br>محمد<br>خان | پورتنی | پورتن<br>ي | ٢ | ٣ | ۴ | '٨<br>١١ | '٠<br>۵ | ٢٨٠ | — | – | — | ٩'<br>۵ | ٧٨ |
| پورتنی | آخوند<br>زاده | — | — | ٣ | ٣ | ٣ | '۵<br>١٣ | '٠<br>۶ | ٢٧٠ | ۵ | — | — | '٠<br>۵ | ٧١ |
| پورتنی | پودانه | عبدالله<br>خان<br>غلزی | غلزي<br>افغانان<br>فارسي | ١ | ١ | ۶ | ۵ '٠ | '٧<br>٢ | ١٠۵ | '۵<br>۴ | — | — | '۵<br>٢۶ | ٢١ |
| پورتنی | کوندل<br>«کهند<br>ل-ژ» | کوندل<br>غلزی<br>«کهند<br>ل-ژ | غلزي<br>افغانان<br>فارسي | ١ | ١ | ٢ | ۴ '٧ | '٠<br>٢ | ٨۵ | — | – | — | '۵<br>٣ | ٢٢ |
| پورتنی | سلیم<br>خان | — | — | ١ | ٢ | — | ۶ '۵ | '٠<br>٣ | ٨۵ | ١ | ۵ | — | '٠<br>٣ | ٣۵ |
| پورتنی | کریم<br>کوشتو | — | — | ١ | ١ | ٢ | ٧ '٠ | '٠<br>٣ | ١١٠ | '۵<br>۴ | – | — | '٠<br>۴ | ۴٠ |
| پورتنی | شیر<br>علیخان | — | — | ٢ | —<br>- | — | ۴ '٣ | '٠<br>٢ | ۶٠ | — | — | — | '٠<br>٢ | ٢۶ |
| پورتنی | سید<br>غلام | — | — | ٢ | ٣ | ٢ | '٢<br>١١ | '٠<br>۵ | ١٩٠ | — | ۶ | — | '۵<br>۵ | ۵۵ |
| پورتنی | شاه<br>کرم | — | — | ١ | ٢ | — | ۶ '۴ | '٠<br>٣ | ١٣٠ | — | — | — | '٠<br>۵ | ٢٣ |
| پورتنی | فوز | — | — | ١ | ۴ | ٢ | '٢<br>١١ | '٠<br>۵ | ١۵۵ | ۶ | — | — | '٠<br>۵ | ۵٠ |
| پورتنی | دین<br>محمد | دین<br>محمد<br>زوري | زوري<br>فارسي | ١ | ۴ | ٢ | '٣<br>١١ | '٠<br>۵ | ١٧۵ | ٧ | — | — | '۵<br>۵ | ٧٢ |
| پورتنی | زري | — | — | ٣ | ٣ | ٣ | '۵<br>١٣ | '٠<br>۶ | ١۶٠ | '۵<br>۴ | ٢ | — | '٠<br>۵ | ٨١ |
| پورتنی | میر<br>اکبر | — | — | ١ | ٢ | — | ۶ '۵ | '٠<br>٣ | ١٠۵ | — | – | — | '٠<br>۴ | ٢٧ |
| پورتنی | محمد<br>اکبر | — | — | ١ | ٢ | ٢ | ٧ '٠ | '٠<br>٣ | ٩۵ | '۵<br>٣ | ١ | — | '٠<br>۴ | ٣٣ |
| پورتنی | آغا<br>جان | — | — | ٣ | ۵ | ۴ | '١<br>١٨ | '٠<br>٨ | ٢٨۵ | — | — | — | '٠<br>١٢ | ١٢۶ |
| پورتنی | غلامي | — | — | ١ | ٢ | ٢ | ۶ '٨ | '٠<br>٣ | ٨٠ | '۵<br>۴ | — | — | '٠<br>۴ | ٣١ |
| پورتنی | گلزار | گلزار<br>پهلوان | پهلوان<br>فارسي | ١ | ١ | — | ۴ '٣ | '٢<br>٢ | ۵٠ | — | ٢ | — | '٠<br>٣ | ٢۴ |
| پورتنی | قلعـۀ<br>کنگ | – | خاصه<br>داران<br>او پلي | ۴ | — | — | ٨ '٠ | '٠<br>۴ | ٨٠ | — | — | — | '٠<br>۵ | ١٩ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | سپاهيا ن | | | | | | | | | | | |
| پورتنی | حسين | — | — | ٢ | ٣ | ٢ | ٬٢ ١١ | ٬٠ ٥ | — | — | — | — | — | — |
| پورتنی | دالخاک ي | — | — | ١ | ٣ | ٢ | ٬١ ٩ | ٬٠ ۴ | — | — | — | — | — | — |
| د کنگ د تبابي ټولټال | | | | ٥٧ | ٩ ٠ | ٦ ٥ | ٬١ ١٣٣ ١ | ٬٣ ١۴ ٧ | ۴٢٣ ٠ | ٬٥ ١۴ ٥ | ٬٥ ١۴ ٨ | — - | ٬٥ ١٥ ١ | ١٥٠٧ |

د ۱۹۰۳ز کال د مارچ په مياشت کې د چخانسور والي آخوندزاه، د خاصه دارانو له ۳۰۰ کسيز گارنيزيون او د مزاري د پلي کنډک له يوې قعطي (۱۰۰) تنو سره دلته اوسېدۀ. ويل سوي چي ددوی اکثريت بې وسلو سرتيري دي. له هغې نيتې وروسته په فراه کي مستقر د مزاري غونډ نور سل تنه دلته د معلوماتو له مخې استول سوي دي (بومي معلومات، ۱۹۰۵)

په ۱۹۰۳ ــ ۱۹۰۵ کلونو کي د سيستان له مأموريت سره مل د اوبولګولو مأمور ښاغلي وارډ د قلعـۀ کنګ د تبابو يا د کليو د ډلو د ځانګړتياوو په هکله راپور ورکړی دی. او وايي چي ( په عادي کال کي د غنمو او وربشو حاصل اتـۀ نيم چنده د کرل سوي تخم وي.) وګورئ: پورتـني جدولونه.

* **قلعۀ کهنه**: وګورئ: کرباسک: ۹ ــ ۳۰، ۳۹ ــ ۶۲

**قلعـۀ مادرِ پادشاه**: ۱۱- ۳۰ ، ۱۵ ــ ۶۲: لوړوالی: ۱۴۶۰ فيټه. له رودباره ۱۵ مايله کښته د هلمند د سيند پر کيڼې غاړې باندې د يوۀ حصار کنډوالي دي. ددې حصار د ديوالونو د پام وړ برخه لا تر اوسه ولاړه ده او دننه برخه ئې ګـنبدي ده. دا حصار د سيمې په چم ګاونډ کي د نورو مونډل سويو او ليدل سويو کلاګانو په پرتلې د معماري د سترو مهارتونو نښې نښاني لري او ظاهراً ښکاري چي دا ځای د يو شمــېــر مدعياتو ځای دی. بيلو وايي: ويل سوي چي دا د کيخسرو استوګنځی وو خو ميتلند په خپل نظر د بيلو له دې خبرې سره موافق نـۀ دی. نوموړی افسر يعنی ميتلند وايي: " دا د نورو ځايونو په پرتله په ښـۀ حالت کي پاتي دی او له باندني منظر څخه د عادي کلا بڼه لري. د کلا يا حصار شکل مستطيل دی او په ختيځ ــ لويديځ پراتـۀ لري او ۱۶۰ يارده په ۱۲۰ يارډو کي ده. دا کلا په هماغه دوديز ډول په لمر کي له وچو سويو خښتو څخه جوړه سوې ده او د يوې نـه چندان لوړې سطحي پر ژې ولاړه ده او ظاهراً داسي ښکاري چي د غونډۍ پر سر دې جوړه سوې وي. ديوالونه ئـې چي له دننه اندازه سوي ۲۵ فيټه لوړوالی لري او د ديوالونو پاس د سرونو په ځای کي له ۵ تر ۶ فيټو پورې پرېـږ دي. دروازه ئـې په شمالي ډډه کي ده.

د کلا دننه ظاهراً په لويو لويو انګړونو ويشل سوې ده. لويديځ لور ته ئـې څو کوټې دي چي ګنبدي لري خو چتونه ئـې لا له ډېرو وختونو دننه رالوېدلي دي. شک نـۀ سته چي دغو کوټو د مانۍ د کوټو بڼه درلوده چي د دننه فضا تر نيمايي پورې غځېدلي او تقريباً د «راهبه خاني يا دَير» بڼه خپلوي او بيلو ئـې جومات بولي، او ډېر احتمال هم سته چي ښايي همداسې به وي، خو زما په فکر کي د ډېرو ځانګړتياو مونډنه وه. زما ذهن ته داسي رالوېږي چي ښايي دا به کومه «زنکه خانه» وه. ددې دربار شمال او سويل تر منځ يو دالان تير سوی دی او ښايي دواړه اړخونه ئـې په نورو برخو نـۀ وي ويشل سوي او ممکن د نديمانو او مزدورانو او آشپزانو استوګنځايونه به ول. د سويلي اړخ په اوږدو کي او د لويديځ په نيمايي اړخ کي دننه ديوال د اُريب شوي شګي غونډۍ ته ورته دي چي په سويل ختيځه برخه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولـئ

کې ئـې د اصلي دیوال سرته ختلي ده. دیوال په شمال ختیځ گوټ کې او همدا شان د انگړ د دروازې لویدیځ ته چاوده کړې ده. له باندني اړخه د کوم خندق نښه نـهٔ ښته خو کلا هم ختیځ او لویدیځ، هم غونډۍ گاني او د ټولي ودانۍ پاتي برخي تر ښایسته ډېـر ځایه غځـېدلي دي.

دغه وراني ویجاړې کنډوالي د کوم ستر لرغونتوب ظواهر نـهٔ لري، خو دا امکان سته چې د کومي لا لرغوني ودانۍ پر ځمکي باندې ودانه سوي وي. په دغو کنډوالو کې د پخو خښتو ټوټې پرتې دي او هم نښې ئـې په دیوالونو کې ښکاري. موږ په غرمه کې د اتموسفیر د سنجولو آله په ودانۍ کې دننه کښېښودله او ستنه ئـې په ۲۸ اعشاریه ۳۷ درجو کې ودریدله او لوړوالی ئـې نـېږدې ۱۴۶۰ فیته وښود. د عمومي دروازې مقابل لوري سړک باندې مو چې ولیدله درجه ئـې ۳ پر ۱۰۰ کښته وښودله او د ۳۰ فیتو د لوړوالي توپیر مو ولید. دا چې ولې دا کلا د «پادشاه د مور د کلا» په نامـهٔ یادېږي، او دا کوم پادشاه وو، او یا دا به کوم پادشاه وي اوسمهال ئـې موندنه ناشوني ښکاري. خو یوه خبره په قطعیت ځرگنده ده چې دا ودانۍ د کیخسرو (ستر کوروش) د مهال نـهٔ ده، نـهٔ دا ، بلکه هغه عصر لا بیخي نـېږدې نـهٔ ده. (بیلو، میتلند). په ۱۹۰۳ز کال کې دلته د سنجراني بلوڅانو د ۳۰ کورونو کلی وو چې ۱۱۰ تنه وگړي ئـې درلودل. دغو خلکو ۷۰ کورني څاروي، ۵۰ پسونه او وزې، ۴۰ اوښان او ۴ قلبې ځمکه درلوده چې هرې قلبې ۱۸ خرواره حاصل کاوهٔ. دلته یو گودر هم وو. (ایس. ایم. وتلیس)

**قلعـهٔ محمد کریم خان:** ۳۸ ــ ۳۲، ۴۱ ــ ۶۴: په نوزادو کې یو کلی دی چې د دوه وو تیزنیو (د هلمند په موسی کلا کې ژ) تر منځ نیمایي لارې کې واقع دی. د علیزیو ۵۰ کورونه دلته اوسي. (صاحبداد خان)

**قلعهٔ نو:** ۳۴ ــ ۳۰ ، ۴۴ ــ ۶۳: په گرمسیل کې د بگت او خواجه علي ترمنځ د خان نشین د لویدیځ په ځلورمایلۍ کې د هلمند د سیند پر ښي غاړې باندې یو کلی دی. ویل سوي چې دلته د اسحاقزیو ۳۰۰ کورنۍ ژوند کوي. (صاحبداد خان، بیلو)

په ۱۹۰۳ز کال کې د سیستان مأموریت د میسري خیلو، سدوزیو ۳۵۰ کورنۍ ولیدلې چې د وگړو ټول شمـېـر ئـې ۹۰۰ تنه وو. د کلي ملک محمود افضل خان وو. ټوله ځمکه ددوی کرل سوې او پریمانه د اړتیا وړ توکي لري. دلته ۵۰۰ غواگاني او غوایان، ۳۰۰ پسونه او وزې او ۱۵۰ اوښانه ول. مقابل لور ته ئې له سینده د پورې غاړه وتلو لپاره یو گودر هم سته. (ایس. ایم. بومي معلومات ۱۹۰۳). په دغـهٔ نامـهٔ بل کلی د نوزادو د سویل لویدیځ په ۱۶ مایلۍ کې په ۱۲ ــ ۳۲، ۲۰ ــ ۶۴ کې واقع دی.

**قلعـهٔ نو:** ۳۲ ــ ۳۱ ، ۴۵ ــ ۶۲ :له خاش څخه تر خاشروډ پورې په لنډ واټن کې یو کلی دی. دا کلی ددې سیند پر کیڼي غاړې واقع دی او د سیند پر بستر باندې مسلط دی. دا کلی د ارباب حسین خان استوگنځی دی چې نوموړی د لـځي غلام حیدر خان درېم ورور دی. ددې ځای استوگن وگړي ۱۰۲ کورنۍ دي چې فارسیوانان دي او ځمکې ئـې ۱۲ غني او ۲ تحویل پگوگاني دي. (ایس. ایم. تییت ۱۹۰۳)

**قلعهٔ نو:** وگورئ: قلعـهٔ نو

نوربیا

**قلعـهٔ سبز: شنـهٔ کلا:**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ